AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۶/۲۶

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(یوویشتمه برخه)



(د حفصې مدرسې ښځینه زده‌کوونکي د تېښتې په حال کې)

**پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۷)**

**جنرال مشرف او د اسلام‌آباد پر سره جومات (لال مسجد) برید (۲)**

**غبرګونونه او نیوکې:**

په پاکستان او سیمه کې د نومورې جګړې په اړه متفاوت غبرګونونه رامنځته شول، «جنرال مشرف په یوې ټلویزیوني وینا کې ولس ته وویل: زه د افراطیت او ترهګرۍ د له منځه وړلو هوډ لرم، ژمنه کوم چې **«افراطي ډلې ټپلې به د پاکستان په ګوټ ګوټ کې وځپم، د سور جومات د مدرسو په څېر، د دیني مدرسو او هغو کسانو پر ضد به ګامونه پورته کړم چې دوی روزنه ورکوي او یا یې ملاتړ کوي.**[1]

د جنرال مشرف په څېر د پاکستان نورو حکومتي چارواکو هم پر سره جومات او مدرسو باندې د مشرف بریدونو پلوي وکړه خو امریکایي چارواکو له پاکستاني چارواکو څخه هم د جنرال مشرف دغه پوځي عملیات ډېر ګټور وبلل، د امریکا ولسمشر **(جورج ډبلیو. بوش)** د جنرال مشرف عملیات وستایل، بوش وویل چې **مشرف د افراطیانو پر خلاف**

[1]: https://www.nytimes.com/2007/07/13/world/asia/13pakistan.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**جګړه کې يو پياوړی متحد دی، زما هغه خوښيږي او درناوی ورته کوم. مشرف د افراطيانو د له منځه وړلو په برخه کې يو ارزښتناک متحد پاتې شوی دی او دا مهمه ده چې له داسې متحدانو سره ټينګې اړيکې وساتل شي.**[2]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيال وياند **(تام کېسي)** وويل: مخکې له هغې چې کوماندو ځواکونه جومات ته ننوځي، وسلهوالو ته ځو ځله [د تسليمۍ] خبرداري ورکړل شول.

کېسي د پاکستان د پوځ کړنې عادلانه وبللې ويې ويل:**«د پاکستان حکومت مسؤلانه عمل کړی دی، د نظم او قانون ساتل، د هر حکومت مسؤليت دی.»**[3]

په لاهور کې د امريکا کونسل **(براياں ډيوېډ هنټ)** وويل: د امريکا حکومت د پاکستان د حکومت ملاتړ کوي او «وسلهوالو ته ځو ځله اخطارونه ورکړل شول خو هغوی تسليم نه شول او پر ځای يې جګړه غوره کړه او د دولت واکمني يې وننګوله.»
ډيوېډ هنټ، دا هم زياته کړه چې **«امريکا د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه کې د پاکستان ملاتړ کوي او پاکستان په جنوبي اسيا کې خپل تر ټولو نږدې متحد ګڼي.»**[4]

له بلې خوا د سره جومات خواخوږو او پلويانو سختې نيوکې وکړې چې په دې لړ کې د القاعدې مشرانو، له ډيورنډ کرښې پورې غاړې طالبانو ګوتځندنې د پام وړ وې: د القاعدې سازمان مشر اسامه بن لادن، **(جهاد ته راودانګئ)** په نوم يو ويډيويي پيغام خپور کړ، هغه په خپله وينا کې وويل: **«شل کاله وروسته له هغې چې د پاکستان خاورې د يو جهادي جګړن (امام عبدالله عزام[5]) وينه په ځان کې حل کړه، نن پاکستان د يو بل ستر مسلمان، امام عبدالرشيد غازي، د مرګ شاهد دی، موږ له خدايه غواړو چې القاعده د امام عبدالرشيد غازي د وينې غچ واخلي.»**[6]

د القاعدې مرستيال ايمن الظواهري:**(پر لال جومات تېری)** په نوم يوه ويډيويي وينا وکړه، هغه له پاکستانيانو وغوښتل چې **د پاکستاني پوځ د بريد د غچ اخيستلو لپاره جهاد ته ودانګي.** د الظواهري دغه څلور دقيقهييزه وينا، د لال جومات او پاکستاني پوځ ترمنځ شخړې ته ځانګړې شوې وه، دغه ويډيو د القاعدې د رسنيزې څانګې **(السحاب)** له خوا خپره شوه او په لمنليک کې په انګريزي ژبه هم ژباړل کېدله.[7]

## نانډوله جګړه

جنرال مشرف او پوځي انډيوالانو يې د سره جومات د پاڅونوالو پر وړاندې له ډېر نامناسب ځواک څخه کار واخيست، داسې لکه يو څوک چې پر ميږي باندې د يو درونډ پلک (مارتول) ګزار وکړي. جنرال مشرف چې تر ډېره يو ناکام جنرال ګڼل کيږي، همدارنګه د سره جومات په نښته کې د خپل بېځايه غبرګون له امله ډېر سپک او ورټل شو او يو ځل بيا يې يوه بله تاريخي بدنامي وګټله. په داسې حال کې چې د سره جومات د عملياتو له امله نوموړی د غربيانو، په ځانګړي توګه د امريکايانو لهخوا وستايل شو.

---

[2] : http://www.wsws.org/articles/2007/jul2007/paki-j11.shtml
[3]:https://web.archive.org/web/20080904034504/http:/rawstory.com/news/afp/US_backs_Pakistan_s_storming_of_rad_07102007.html
[4]:https://web.archive.org/web/20070927215343/http:/www.pakistanlink.com/Headlines/July07/12/10.htm
[5]:ډاکټر، شيخ عبدالله **عزام د** فلسطين سنی مذهبی ديني عالم ؤ، هغه په شرعي علومو کې دوکتورا لرله، عزام **د** لښکر طيبه بنسټ اېښودونکی او **د** اسامه بن لادين سلاکار پاتې شوي وو، هغه په افغانستان کې **د** شورويانو پر وړاندې جګړه کړې ده، شيخ عبدالله عزام د ۱۹۸۹ز. کال د نومبر په ۲۴مه نېټه، په پېښور ښار کې د يوې بمي چاودنې له امله، له خپلو دوو زامنو سره يو ځای په شهادت ورسېد. دغه چاودنه د اسراييلي استخباراتو د (موساد) جاسوسانو لهخوا ترسره شوې ده.
[6]: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7005140.stm
[7]: https://abcnews.go.com/International/wireStory?id=3367353


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پر سره جومات د جنرال مشرف په ځبر، د نالنډوله جګړې په اړه د جرمنیانو مشهور مشر، (**اودلف هیټلر) وايي:«له دې زیات شرموونکې بل کار نه شته چې دوه تنه، د سوک ځپېرې په جګړه نښتي وي ... خو دا یو یې توري او خنجر ته لاس کړي.»**[8]

جنرال مشرف د داسي کسانو پر وراندې چې یوازې کلاشینکوفونه او لاسي بمونه ورسره وو، شوبلي (ټانکونه) او الوتکي وکارولي، تر دې چې (لکه وراندې چې یادونه شوې ده)، **زهرجن، سوځوونکې او وژونکې ګاز (سپین فاسفورس) یې هم وکاراوه.** دا په داسي حال کې وو چې په جومات او مدرسه کې په سلګونو ښځې او ماشومان زده‌کوونکي، له یو لوري څخه د ملایانو له‌خوا د ډال په توګه ایسار کړای شوي وو او له بلې خوا، مشرف یې پر وراندې داسي وسلې وکارولي، لکه د هند یا د افغانستان له پوځ سره په جګړه کې ښکېل وي.

د دغي ناوړه جګړې له امله، د پاکستان پوځي، استخباراتي، سیاسي او دیني لوړپوړو چاراوکو هم پر جنرال مشرف ډېرې سختې نیوکې وکړې، د پاکستان پیژندل شوی پوځي چاراواکی ډګرجنرال **(جمشېد ګلزار کیاني)** پر جومات د برید د پلټنو غوښتنه وکړه، ویې ویل چې په دې عملیاتو کې **د سپین فاسفورس بمونه کارول شوي دي.** لږ وروسته د پاکستان د دیني چارو وزیر **(اعجازالحق)** هم دا خبره تایید کړه چې ځواکونو د پوځي عملیاتو پر مهال ربښتیا هم **سپین فاسفوري ګاز** کارولي وو.[9]

د پاکستان د استخباراتو (ISI) پخواني رییس **(اسد دراني)** په خپل کتاب ( The Spy Chronicles: RAW, ISI and the Illusion of Peace) کې **د سره جومات عملیات یوه فاجعه بللې ده** او چاروکي یې د دې قضیې د مدیریت او چلند له امله سخت غندلي دي. هغه لیکي چې دغه برید د ودانیو د سوځېدلو او د پام وړ تلفاتو لامل شو چې په کې ګڼې ښځې او ماشومان هم ژوبل او ووژل شول.[10]

په تبعید کې د نواز شریف د مسلم لیګ (ن) ګوند عمومي منشي وویل چې **د هېواد د ناوړه وضعیت مسؤل پرویز مشرف دی او په باجوړ، وزیرستان او سره جومات کې یې پوځي عملیات پرانده او لار ورکې وبلل.**[11]

بهرنیو او پاکستانیو رسنیو هم ډېرې سختې نیوکې وکړې د پاکستان د **(اسلام)** ورځپاڼې پر حکومت نیوکه وکړه، ویې لیکل:«حکومت نه شي کولای ځان له دې فاجعې بې‌ګناه وبولي، که یې غوښتلي وای، کولی یې شول ستونزه په پیل کې حل کړي خو داسي ونه شول. **د پاکستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره امنیتي ځواکونو، نه یوازې یو جومات او دیني مدرسه بمبار کړه، بلکې زغره‌وال ګاډي، ټانکونه او جګړه‌ییزې چورلکې یې هم په داسي لوی شمېر وکارولي چې هر څوک یې حیران کړل.»**[12]
نوموړي ورځپاڼې ددغې جګړې د راتلونکو پایلو وړاندوینه هم کړې وه لیکلي یې وو چې «دا ښیي چې دغه عملیات د ځینو شیطاني ذهنونو له‌خوا طرحه شوي وو، دا ډېره غمجنه، شرموونکې او خطرناکه پېښه ده، **دا چې هېواد او ملت ته یې څومره زیان رسیدلی او په راتلونکي کې به یې اغېزې څومره بدې وي، اوس مهال یې اټکل کېدلی شي.»**[13]

---

[8]: نبرد من. فارسي ژباړن: عنایت. ۲۸۳مخ
[9]: https://www.thenews.com.pk/archive/print/65420-phosphorus-bombs-used-in-jamia-hafsa-operation-ejaz
[10]:https://en.wikipedia.org/wiki/The_Spy_Chronicles:_RAW,_ISI_and_the_Illusion_of_Peace
[11]: http://www.brecorder.com/news/3427623
[12]:http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6290594.stm
[13]:http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6290594.stm


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**(اوصاف)** ورځپاڼي په غبرګون کي وليکل:«ټول ملت د غم په تغر ناست دی ... يوازي امريکا غوښتل دا ډول پېښه رامنځته شي او د دې ادعا ثبوت دا دی چي **د عملياتو بريا د جنرال مشرف د قوماندانی پر ځای، په سپينه مانی او پنټاګون کي ولمانځل شول.»**[14]

د لاهور د عالي محکمي د وکيلانو ټولني مشر وويل:«دا ستونزه د خبرو اترو له لاري حل کېدای شوه خو جنرال مشرف په قصدي توګه د بې‌ګناه خلکو وينه توېه کړه، **ځو خپل بهرني باداران راضي کړي.»**

ځينو ورځپاڼو بيا د حکومت له دريځه ملاتړ وکړ.... ډېلي ټايمز ورځپاڼي هم د حکومت له دريځه ملاتړ وکړ ويې ليکل: راځئ خبره روښانه وکړو، هيڅ حکومت نه شي کولای (له ترهګرو سره د نه مذاکري) نړيوال اصل مات کړي او بيا دې وستايل شي.»

## [ټوروته او درواغ]

د دې لپاره چي جنرال مشرف او پوځ يې خپلي بې‌کفايتي او تمبلي ته پرتوګ واغوندي، د جومات او مدرسي پر وسله‌والو يې تور پوري کړ چي ګواکي په جومات او مدرسه کي ډول، ډول وسلو شتون درلود، د پوځ وياند د لسګونو ډوله وسلو او مهماتو اعلان وکړ چي په هغو کي د ټانک ضد RPG راکټونه؛ د ټانک او پرسونل ضد بمونه؛ ځانمرګي واسکټونه او ... نوري ډېري وسلي او مهمات ترلاسه شوي دي.[15]

پوځيانو، (د دوی په وينا) نيول شوي وسلي رسنيو ته ورښکاره کړې او بيا يې هماغه وسلي او مهمات د پوليسو په يوې نږدې ټاني په يو خوندي زېرمتون کي ځای‌پرځای کړې. حيرانوونکي خو لا دا ده چي ورروسته دا وسلي په مرموزه توګه له هغه ځايه ورکي شوې.

په دغه لېنک کي يادې وسلي او د جومات او مدرسي د نښتي ځيني صحني ليدلی شئ:
[https://www.youtube.com/watch?v=8Q_AaY_FEUQ](https://www.youtube.com/watch?v=8Q_AaY_FEUQ)

په ويډيو کي ښکاري، ډېری وسلي د پاکستان پوځ پخوانی زړې وسلي دي او ځيني يې هغه ډول وسلي او بمونه دي چي د آی‌ايس‌آی لەخوا افغان تنظيمونو ته ورکول کېدل، لکه د ټانک ضد ايټالياوي (TC/6 Anti-Tank Mine) او يو بل ډول بمونونه چي په ويډيو کي ليدل کيږي.
دغه غولونکي (نمايشي) وسلي چي په خپله د پوځ يا استخباراتو لەخوا د جګړې د پای ته رسيدلو په لومړيو شېبو کي راوړل شوي وې. ځينو خبرياالانو دا پوښتنه راپورته کړه چي **«ولي وسله‌والو خپلي درني وسلي لکه: ټانک ضد، آر.پي.جي راکټونه، ټانک ضد بمونه او ځانمرګو واسکټونو څخه د خپلي دفاع په موخه ونه کارول؟»**[16]
که له ملايانو او طالبانو سره ربښتيا هم ار.پي.جي ټانک ضد راکټونه، بمونه او ځانمرګي واسکټونه ورسره واي نو خامخا به يې په جګړه کي کارولي وای، په ځانګړي توګه ار.پي.جي راکټونه چي هم ټانکونه له منځ وړي او هم نور هدفونه.

بله دا چي څرنګه کېدای شي دومره ډېري وسلي د پوليسو له ډيپو څخه ورکي شي؟

ځواب يې دا دی چي پوځيان په وېره کي وو چي که پلټنه وشي نو د دوی دغه جعلي وسلو جعلکاري به رسوا شي نو هغه وسلي چي په خپله يې راوړي وې، په خپله يې له ځان سره يوړې، ويې ويل چي وسلي ورکي شوې!(منبع)

## [توطيه، که د پاکستانی ادارو ضعف؟]

[14]: هماغه

[15]:[https://web.archive.org/web/20071222000958/http:/www.sfgate.com/cgi-bin/article.cgi?file=/c/a/2007/07/12/MNGOTQUTPG1.DTL](https://web.archive.org/web/20071222000958/http:/www.sfgate.com/cgi-bin/article.cgi?file=/c/a/2007/07/12/MNGOTQUTPG1.DTL)
[16]: [http://www.brecorder.com/news/3413229](http://www.brecorder.com/news/3413229)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

لکه څرنګه چې په تېرو پاڼو کې څرګنده يادونه وشوه، جنرال مشرف پر سره جومات او اړونده مدرسو باندې د بريد په موخه يو شېطاني پلان جوړ کړی ؤ، مشرف د استخباراتو له لارې د نوموړو ديني بنسټونو مسؤلان، د حکومت پر خلاف او د شريعت د پلي کولو په موخه وغولول، هغوی ته يې وسلې ورکړې يا يې د وسلو دننه کولو اجازه ورکړه، هغه وو چې طالبانو د جومات په شاوخوا کې وسلهوالې ګزمې پيل او (لکه چې ومو لوستل د سلمانيانو، سيډيو، هټۍ (دوکانونه) يې وتړل او څو تنه چينانيان او پوليس يې بنديان کړل) د سره جومات د طالبانو دغو کړنو ته د پاکستاني حکومت په بېپروايۍ کتل، د حکومت دا ډول دريځ د دې شهادت ورکوي چې توطيه په لوی لاس طرحه شوي وه، داسې چې په دې توګه پر جومات د بريد لپاره يوه پلمه ترلاسه کړي، لنډه دا چې جنرال مشرف پر جومات او مدرسو باندې د وسلهوال بريد د توجيه کولو لپاره دا ډول يو اوپراتيفي ـ شېطاني پلان ترتيب کړی ؤ.

د پاکستان د امنيتي ادارو د دا ډول دريځ په اړه ډېرو پاکستانيو او نړیوالو شنونکو پوښتنې او نيوکې رامنځ ته کړې، دوی شک څرګند کړ څه ډول شوني ده چې د اسلام آباد په زړه کې دغو ديني ودانيو ته په دومره لويه کچه وسلې او وسلهوال جنګيالي ننوځي؟
د بي.بي.سي (نيوز) ورځپاڼې وليکل:«کله چې عمليات پای ته ورسېږي، ډزې ودرېږي، دوړې او لوګي کښېني او مړي وشمېرل شي نو ډېرې پوښتنې راپورته کيږي:
**حکومت ولې له دې وړاندې د دغو روحانيونو (ملايانو) پر خلاف ګام پورته نه کړ؟** که داسې شوي وای نو دومره ډېر انسانان به نه وو وژل شوي. **ولې د سره جومات ملايانو او طالبانو ته دومره آزادي ورکړل شوه چې دا ديني بنسټونه دې په دولت کې د ننه پر يو بل دولت بدل شي؟** تر دې چې د اخلاقي پوليسو ډله يې لرله چې له هر ډول حساب ورکونې پرته يې فعاليت کاوه او د اسلام سختدريځه تعبير يې، د ښار پر اوسېدونکو تحميلاوه. **دا ټول سختدريځي وسلهوال چې ويل کېدل (ځينې يې بهرنيان هم وو) څنګه د اسلامآباد په زړه کې دغو ځايونو ته ننوتل؟»**[17]

د القاعدې د مشرتابه له دريځ او د جومات او مدرسو د مشرانو له کړنو ښکاري چې دوی د القاعدې سازمان او ځايي وسلهوالو طالبانو سره (چې هغوی هم په القاعده کې وو) اړيکې لرلې، د جومات ملايان ځکه ډاډه وو چې دوی فکر کاوه: له يوې خوا د آیاېسآی ملاتړ لري او له بلې خوا د القاعدې.
د جومات ملايانو، عبدالرشيد غازي او عبدالعزيز غازي دومره اسانه بللې وه چې غوښتل يې د پاکستان، شاوخوا نيم ميليون پوځ پر وړاندې، د څو سوه طالبانو په وسيله په پاکستان کې شريعت پلی کړي. **هغه خبره چې وايي: کونګټه د خره پچې سر ته ختلې وه، دېخوا - ابخوا يې وکتل نو ويې ويل: اوهو، کشمير مې وليد.**
دغو ملايانو چې د خره پچې له سره يې کشمير ليدلی ؤ، **د دوی دغه ستره ناپوهي د دې سبب شوه چې دوی په خپل لاس د جنرال مشرف پلان عملي کړ.**
جنرال مشرف امريکايانو ته وښودله چې ګواکې ترهګري زموږ ستونې ته رسيدلې ده چې پر وړاندې يې خطرناک او پېچلي عمليات کوو او د ترهګرۍ په نوم يې له امريکايانو لا نور ډېر ډالر ترلاسه کړي.

**پايلې (عواقب)**

جنرال مشرف د جومات د وسلهوالو په وژلو وياړ او غورې کولې خو د مشرف دغه عمل ډېرې ناوړه اوږدمهالې پايلې لرلې، مشرف شاوخوا ۱۰۰ تنه وسلهوال ووژل او نږدې ۵۰ تنه يې ژوندي ونيول خو دغه جګړه د دې سبب شوه چې په زرګونو وسلهوالو وزيږول، هغه مهال د امريکا واشنګټن پوسټ ورځپاڼې اندېښنه څرګنده کړه وړاندوينه يې وکړه ويې ويل چې دغه پېښه به پر پاکستان څه اغېز ولري: **«دا موضوع به مذهبي احساسات لا پسې راپاروي، ښايي په هېواد کې د منځلارو او افراطيانو ترمنځ واټن لنډ کړي ... .»**[18]

له دې پېښې وروسته، طالبانو او د هغوی اړوندو قبايلي وسلهوالو ډلو په قبايلي سيمو او خيبر پښتونخوا کې د **وزيرستان تړون (د پاکستان له دولت سره يو لس مياشتنی د سولې تړون ؤ) لغوه کړ.**[19]

[17]: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6290594.stm
[18]:http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6290594.stm
[19]: هماغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د سره جومات له پېښې وروسته، د تحریک طالبان پاکستان (TTP) په رامنځته کېدو کې مهم رول ولوباوه او د قبایلي سیمو بېلابېلو وسلهوالو ډلو د سره جومات د غچ اخیستلو په موخه او د (TTP) په نوم د **(بیت الله مسید)** په مشرۍ یو متحد خوځښت (تحریک) رامنځ ته کړ او د پاکستان حکومت پر ضد د وسلهوالو بریدونو څپې لاپسې چټکې شوې.

د جومات او حفصې مدرسې له سقوط وروسته په پاکستان کې د سختدریځو لپاره د راټولیدو یوه مهمه وسیله وګرځېده، القاعده، جیش محمد، لشکر جنګوي او طالبانو ته یې انګېزه ورکړه چې په پاکستان کې غچاخیستونکي بریدونه ترسره کړي چې له نښتې وروسته، **د پنځو میاشتو په اوږدو کې یې۵۶ ځانمرګي بریدونه وکړل چې له امله یې (۲۷۲۹) پاکستانیان ووژل شول.**[20] او «د دغه تاوتریخوالي له امله په ۲۰۰۸ ز. کال په اوږدو کې له ۴۰۰۰ څخه زیات کسان ووژل شول.»[21]

نېټه:۱۴۰۵/۴/۵ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولې.

20: https://books.google.com/books?id=UQEHOTzZcXEC
21:https://web.archive.org/web/20080508172531/http:/www.monstersandcritics.com/news/southasia/news/article_1403354.php/Militants_burn_down_girls_school_in_north-west_Pakistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ